فیض محمد ځدراڼ
۰۶/۰۹/۲۰۱۵

# افغانیت او اسلامیت ته په تذکرو کې اړتیا

په دې مقاله کې په بریښنایي تذکرو کې د افغانیت او اسلامیت د کلماتو د څرنګوالي هر اړخیزه څېړنه شوې ده، چې آیا په بریښنایي تذکرو کی د افغان او اسلام کلماتو ذکر ته اړتیا شته او که نه.

له تیرو دوو کلونو راپدیخوا د بریښنایي تذکرو د ویش لړۍ په نظري توګه پیل شوی ده، خو د عمل لپاره ئي زمینه نده مساعده شوې.

د افغانستان په فعلی شرایطو کې چې ټولنه د دې او ورته پروسو منلو لپاره نده چمتو شوې د داسې یو لوی تصمیم نیول له ستونځو نه خالي نده.

هغه ټولنې چې د ټولنیز نظام قواعد او مقررات په ځان باندې مني لمړی باید د ټولنې غړې د قانون تر سیوری لاندې راوستل شي او وروسته د قانون د تطبیق لپاره ګام پورته شي.

تر څو چې د ټولنې اکثریت غړی د ټولنیزو قوانینو منلو ته چمتو نشي نو د قانونو پلي کیدل یا د ناکامی سره مخ کیږي او یا قانون په ټیټ کیفیت او مشکل سره د ټولنې په غړو باندې پلي کیږي.

افغانې ټولنه یوازی په کابل، کندهار، هرات، مزار او نورو ښارونو پورې محدوده نده. که مونږ دانګام، ارغنداب، زرمت، دایمیرداد، ناوه، پامیر او نورو وتلو سیمو ته نظر واچوو تر اوسه پکی کلیوال او صحرائي دود او دستور حکومت کوي. د قوانینو پلی کول او د نظام حاکمیت خو لا لیری خبره ده.

نو په دی اساس باید یوه ټولنه لمړئ د قوانینو منلو ته چمتو شي او وروسته قانون وربانډی پلي شی. په هر صورت اوس خو افغان حکومت دا ټوپ اچولی دې او نړیوالو مرسته کوونکو هم د ملاتړ ټېر ورته وهلی.

رابه شو اصلی موضوع ته چې کومې عمده او اساسي ستونځې د بریښنایي تذکرو د ویش د پیلیدو خنډ ګرځیدلي دې.

ظاهراً دوه اساسی ستونځې په دی لړئ کی د اقوامو او ډلو تر منځ شتون لري چی یو یې د ملیت (افغان) مسئله ده او بله یی د دین (اسلام) مسئله ده. یوه ډله وایي چی د اسلام او افغان کلمه باید په بریښنایي تذکرو کې ذکر شي او بله ډله بیا افغان ته په پښتون پوری تړون ورکوي.

دا چی د دې دوو ډلو تر شا د چا لاسونه دې او کوم اهداف پکې نغښتي دی، یو محدود شمیر خلک ترې واقف دې.

یوه ډله خلک وائي چی د ملیت (افغان) کلمه دی په بریښنایي تذکرو کی ونه لیکل شي، او دا دلیل وړاندې کوی چی ګواکی (افغان) د پښتون په مانا دې، د ملیت پر ځای دې قومیت ذکر شي. مګر بله ډله بیا وایي چی افغان د پښتون په مانا نده او ټول اقوام باید د یو سیوري لاندې د افغان ملت په نوم ژوند وکړي.

د دې اختلافاتو د حل لپاره لومړئ باید قانون ته مراجعه وکړو، د افغانستان تر ټولو معتبر قانون دا افغانستان اساسي قانون دې. د افغانستان اساسي قانون څلورمه ماده په دی اړه په لاندې ډول صراحت لري:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

د افغانستان اساسی قانون:

څلورمه ماده:

پــه افغانســتان کــي ملــي حاکميــت پــه ملت پورې اړه لري چي په مستقيم ډول يي په خپله يايي د خپلو استازيو لـه لارې عملي کوي.

د افغانستان ملت عبارت دی لـه هغو ټولـو افـرادوڅخـه چـي د افغانســتان تابعيت ولري.

د افغانسـتان ملـت لـه پښـتون، تاجك، هزاره، ازبك، تـرکمن، بلـوچ، پشـه يـي، نورسـتاني، ايمـاق، عرب، قرغيـز، قزلبـاش، گـوجر، براهـوي او نـورو قومونوڅخه جوړ دی.

د افغـان کلمـه د افغانسـتان د ملـت پـر هر فرد اطلاق کيږي.

د ملـت هـيڅ يـو فـرد د افغانسـتان لــه تابعيت څخه نه محروميږي.

پـه تابعيت او پناه ورکولو پورې مـربـوطې چـارې د قانـون له لـيـارې تـنـظـيـمـيږي.

بناءً د افغانستان اساسی قانون د څلورمی مادی څلورم بند په صراحت سره وايي چی (د افغـان کلمـه د افغانسـتان د ملـت پـر هر فرد اطلاق کيږي). په دی اساس سره ويلای شو چی افغان د پښتون په مانا نه بلکی ټول هغه قومونه چی د اساسی قانون د څلورمی مادی په دريم بند کي ذکر شوي دی د افغان په نامه ياديږي.

دويم دليل يی دا دي چي په اکثريت هيوادونو کي مختلف اقوام، اديان او ژبی سره ژوند کوی مگر کله چي د يو ملت په صفت د خپل هيواد نه بهر ته سفر کوي ټولو اتباعو ته يو نوم استعماليږی.

د بيلگي په توگه کولای شو هندوستان نه يادونه وکو، په هندوستان کی په سل هاوو قومونه، اديان، ژبی او خلک ژوند کوي، مگر کله چی له هندوستانه بهر ته ووځي نو د (Indian) يا هندوستاني اطلاق ورته کيږي نه د گجراتی، سکهــ مراتی او يا کوم بل.

روسي تبعی ته د روسيه نه بهر (Russian) يا روسی وايي، امريکايی تبعی ته (American) يا امريکايی وايي، چينايی تبعی ته (Chines) يا چينايی وايي.

نو که چيرته مونږ د خپلو بريښنايي تذکرو نه د افغان کلمه اوباسو او پر ځای يي تاجيک، ازبک، پشه ئی وليکو نو د هيواد نه بهر به بهرنيان زمونږ تاجيک د تاجيکستان تبعه بولی، ازبک به مو د ازبکستان تبعه، پشه ئی او دا نور قومونه خو لا پريږده.

دريم دليل يي دا دې چی د يو هيواد ملی او اساسي ارزښتونه چي هغه هيواد نړی ته ورپيژنی د هغه هيواد نوم، جغرافيائي موقعيت، ژبه، دين، پيسه (کرنسي)، دود او دستور، تاريخ او سياست دې.

زمونږ د هيواد نوم افغانستان دي، جغرافيايي موقعيت يي د آسيا په زړه کي دي، رسمي ژبي ئی پښتو او فارسی دي، دين يي اکثريت مطلق مسلمان دي، کرنسي يي افغانی ده، دود او دستور يي جرگه او ميلمه پالنه ده، تاريخ يي۵۰۰۰ کلن دي چی په زرينو کرښو ليکل شوي دي او سياست يي د سيمي په شرايطو پورې تړلی دی.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

کله چې نوم یی افغانستان شو نو نشو کولای د ملیت نوم یی پښتون، تاجیک، هزاره او یا ازبک کیږدو. ولی چې د ملیت نوم د هیواد د نوم څخه اخیستل کیږي. لکه ترکیه (ترکی)، جاپان (جاپانی)، برازیل (برازیلی) او داسی نور.

پورتنیو دریو دلیلونو ته په کتو سره ویلای شو چی د افغان د کلمې ذکر په بریښنایي تذکرو کې هیڅ کوم قانونی او حقوقي ستونځه نلری مګر نشتون یی لاندی ستونځې پیدا کولای شي:

لومړی: بهر ته سفر

کله چې یو افغان تبعه د هیواد نه بهر سفر کوي نو په بهرنیو هیوادونو کې د هر هیواد د قانون مطابق د بهرنی تبعی مشخصات ثبت کیږی. په فورمونو کی د بهرنی تبعی د ملیت یا (Nationality) لپاره کرښه ځانګړی شوی وي. که چیرته د بهرنی تبعي ملیت په پاسپورټ او نورو اسنادو کې نه وي لیکل شوي نو دغه کرښه خالی پاتي کیږی او سیستم راجستریشن نه قبلوي، او افغان مسافر به شعبه په شعبه سرګردانه ګرځوی. که چیرته د افغان د کلمې نه منصرف شو نو په بهرنیو سفرونو کې به له ستونځو سره مخ یو.

دویم: په بهر کی د تحصیلی اسنادو اخیستل

کله چې زمونږ هیوادوال د افغانستان نه بهر په نورو هیوادونو کې تحصیل کوې نو د دوی د شمولیت او فراغت په سوانحو او اسنادو کې د دوی ملیت (Nationality) لیکل کیږی، که چیرته د دوی ملیت نا معلوم وي نو هم په شمولیت او هم په فراغت کې دوی ته ستونځې پیدا کیږي.

دریم: بهرنیانو سره شراکت

کله چې یو افغان وغواړي د یو بهرني سره شراکت وکړي نو د دوی د شراکت په اسنادو کې د قانون مطابق ملیت یا (Nationality)ته ضرورت پیدا کیږي، که چیرته د افغانی تبعي ملیت معلوم نه وی نو د شراکت اسنادو جوړول به یې له ستونځو سره مخ شي.

څلورم: آنلاین معاملات یا آنلاین ریجستریشن د تجارتي معاملاتو لپاره:

په آنلاین راجستریشن کې چې اکثراً په تجارتي برخو کې تري ګټه پورته کیږي سیستم د ملیت یا (Nationality) غوښتنه کوی، که چیرته زمونږ ملیت نا معلومه وی نو آنلاین معاملات یا آنلاین ریجستریشن نه تکمیلیږي او سیستم منفي ځواب راکوي.

پنځم: د ټولنی د غړو تر منځ د تزاد او تفرقه پیدا کیدل:

که چیرته د ملیت پر ځای قومیت ولیکل شي نو یو ځل بیا به د افغانستان د اقوامو تر منځ د کینی، تاوتریخوالی، نفرت او کدورت تخم و پاشل شي. زمونږ ټولنه دومره پوهی او فکری پختګی ته نده رسیدلي چې دې مسائلو ته پاملرنه و نه کړی. او برعکس تجربې دا ښودلی ده چې د اقوامو تر منځ په تیرو څو لسیزو کی د قوم، سمت او ژبی مسئله په اکثریت مواردو کی بې له ستونځې نده پاتې شوی.

د ملیت پر ځای د قومیت ذکر به بې له شکه تیر یادونه را تازه کړی او د ټولنی په منځ کی به کرکه او کینه له سره را ژوندی کړي.

د افغانیت مخالف څوک دی؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د افغانستان دښمنانو لپاره داسې فرصتونه ارزښتناکه دی چې د افغانستان لويې پروسې د خنډونو سره مخ کړي او پرې نږدي چې افغانستان پرمختګ وکړي. له يو خوا د پرمختګ مخه نيسي او له بلې خوا افغانان په خپلو مينځو کی سره په جنګ اچوی.

افغانستان څلور لسيزې جګړه تيره کړی ده، په تيرو ديارلس کلونو کې يې چانس درلود چې بيا ودان شي، څه نا څه جوړ شو. آبادې وشوه، معارف سيستم فعال شو، ښځو ته په ټولنه او نظام کې ونډه ورکړل شوه، مدني ټولنې فعاله شوې مګر افکار لا تر اوسه هم ندې جوړ شوې، د افکارو جوړښت لپاره څو لسيزو نورو ته هم اړتيا لرو تر څو د نړۍ او سيمې هيوادونو په کچه برابر شو.

په ښارونو کې ټولنيز افکار څه نا څه روزل شوی دی، مګر په لرې پرتو سيمو کې اوس هم خلک په ناپوهۍ او تيارو کې ژوند کوي. او په دې طبقه خلکو باندی د قانون پلی کول ستونځمن کار دی او له بده مرغه د دې طبقې شمير زمونږ په هيواد کې خورا زيات دې.

نا پوهه، له تمدنه لرې او د قانون څخه نا خبره طبقه اکثراً احساساتی برخورد کوی، او د دی خلکو استعمال په قومي، سمتي، ژبني او ديني مسائلو کې محصوصاً په افغانستان کې له بده مرغه ډيره ښه نتيجه ورکړی.

پلورل شوي افغانان د پرديو بادارانو په فرمايش دا طبقه خلک لمسوی او ورته وايي چې افغان د پښتون په مانا دې مخالفت يې وکړه، او هغه غافله طبقه هم له دې نه ناخبره چې ډير داسې پوهان يې شته چې د خير په غونډی ناست دي او د دوی د جهالت او احساساتو تماشه کوی او ترينه خوند اخلي.

بناءً ويلای شو چې په بريښنايي تذکرو کې د افغان کلمې د ذکر په مقابل کې ناپوهه، خام فکره او له قانونه نا خبره طبقه خلک تر ټولو لويه ونډه لري.

راځی چې خپل خلک را بيدار کړو او د جهالت له کندې نه يې راوباسو تر څو د پرديو لاسونه غوڅ شي او مونږ په خپلو ملی او لويو تصاميمو کی خپلواک اوسو.

رابه شو دويمې مسئلی ته چې په بريښنايي تذکرو کې د اسلام د ذکر مسئله ده.

په افغانستان کې د اسلام او قانون څخه دود او دستور خلکو ته وړاندې دي، په بريښنايي تذکرو کې د دين د ليکلو نه د مليت ليکل ورته اړين ښکاری، خو د دې تر څنګ چې په بريښنايي تذکرو کی مليت ليکل کيږي دين هم وليکل شي نو ښه به وي. د افغانستان د اوسيدونکو رسمی دين اسلام دی او د اساسی قانون دويمه ماده په دې اړه په لاندې ډول صراحت لری:

د افغانستان اساسی قانون

دوه يمه ماده:

د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت دين، د اسلام سپيڅلی دين دی.

د نورو اديانو پيروان د خپل دين په پيروۍ او د خپلو ديني مراسمو په اجرأ کې د قانون د حکمونو په حدودوکې آزاد دي.

د اساسی قانون د پورتنی مادی په استناد د اسلام دين د افغانستان رسمي دين دې او بايد په بريښنايي تذکرو د اسلام دين ذکر شي. که چيرته په دې باندې اکتفا وکړو چې د تذکرې په پورتنۍ برخه کی ( د افغانستان اسلامی جمهوری



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

دولت ) لیکل شوي او بیا یې لیکلو ته اړتیا نشته دا هم یو دلیل کیدای شي، مګر په اوږدمهال کې به دا خبره لږ څه ستونځمنه شي په دی معنی چې ټول افغانان مسلمانان ندي، مونږ په افغانستان کې هندو او سکهـ وروڼه هم لرو او په آینده کې به افغانستان جوړ شي او د نورو هیوادونو او نورو ادیانو پیراوان به هم زمونږ د هیواد د تابعیت غوښتنه وکړي، په دی منظور او د افغانستان د اساسی قانون د دویمي مادې په استناد د دین تذکر په برېښنايي تذکرو کې اړین بولم.

د پورتنیو مسائلو پر اساس د ملیت (افغان) او دین (اسلام) کلماتو زیاتول په برېښنايي تذکرو کې اړین ګڼل کیږي.

هیله مند یم چې شته اختلافات په برېښنايي تذکرو کی د دین او ملیت پر سر پای ته ورسیږي او ټول افغانان برېښنايي تذکری تر لاسه کړی او د هیواد د سوکالی او پرمختګ جوګه شي.

له پاملرنی او حوصله مندی نه مو یوه نړی مننه او د یو آباد، سوکاله، سرلوړی او پرمختللي افغانستان په هیله.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ